گزارشگر: امین بسمل

۲۲ اگست ۲۰۱۲

## جرمن مېشتو افغانانو

## کوچنی اختر په گرمواو هېوادپالو ولولو ولمانځه

درنو هېوادوالو!

درپوټ له لوستلوڅخه مخکي تاسو ټولو درنو لوستونکو اودنړۍ په مخ ټولو مسلمانو خویندو او وروڼو ته زه محمد امین بسمل دکوچني اختر مباره کي وایم الله (ج) دي زموږ اوتاسو روژې ، لمونځونه قبول او په ټول بشریت د سولي او ورورولي فضأ واکمنه کړي .

اوس ستاسو توجه لاندي رپوټ ته راړوم:

دجرمني په مونشن ښار کي موږ بایرن مېشتو افغانانو دیکشنبي په ورځ کوچنی اختر په گرمو او هېوادپالو ولولو ولمانځه .



په ياده لمانځنه کې زموږ بې شمېرو افغانانو ګډون کړی وله دې سره سره چې دميرويس نيکه جومات ډېرکسان ځايولای شي خودکوچني اختر په ورځ دګډونوالو شمېر له دوو دريو زروه کسانو ځخه هم وراوښت ځکه چې دبايرن آيالت له لرې پرتو سيمو ځخه هم زموږ ګڼ شمېر هېوادوالو تشريف راوړی و .
دکوچني اخترلمونځ دوه ځلې ادأکړ شو د دريم لمانځه نيت يې هم درلود خو تر دريم لمانځه پورې زه پاته نه شوم ځکه ، چې ما ته يوځوعاجل تليفونونه راغلل .
موږ دوهم لمونځ په نهو نيمو بجو ادأ کړ رب تعالى دې قبول کړي .
زه په يوداسي صف کې ولاړ وم چې، ښی خواته مې له کندهارولايت ځخه سپين ږيری اومحترم استادحبيبي او کيڼې خوا ته مې يو هزاره ورور تشريف درلود.
دميرويس نيکه جومات زموږله ورونو قومونو ځخه ډک و نه خود پښــتون، تاجک، هزاره، ازبک ، ترکمن او نورو ورونوقومونو کمی پکې محسوسېده او نه خو دکندهاري، پکتياوال، ننګرهاري ياکومې بلې سيمې د وګړو تربګيني پکې پاته وه هرې خوا ته به مې چې سترګې اوښتې هر يو به يواوبل ته په درناوي او مينه مينه کتل .



ديخوا په پرتله زيات بدلون راغلی و د حاجي صاحب احمد احمدزي ترمشري لاندې دمشرتابه هيئت ټول غړي دمېلمنو په خدمت کې ولاړ وو پخواني انحصار اوخودخواهي له جومات ځخه کډه کړې وه مشرتابه هيئت په دومره ښه نيت او صميميت سره دخلګو هرکلی کاوه، چې حدېې نه درلود.
دجومات امام محترم حاجي صاحب فريد ددينې توضيحاتوترڅنګ دملي يوالي او ورورولي دټينګښت لپاره اغېزمني خبرې کولې ددرۍ نيمو لسيزوناخوالي اوپه زندانونوکې په ډول ډول نومونودافغانانو ځورولوته يې له يوې بې طرفې او رښتينې زاويې ځخه اشارې کولې دهېوادپه ناورين او ټولوقربانيانو يې زړه سوی ښــکاره کاوه .

پردي پال اوخودفروش کسان يي په داسي حال کي په بي طرفانه اومنطقي ډول سره محکومول ، چي په جومات کي افغان کونسل ديونس قانوني ورور هم ناست و.

محترم امام حاجي صاحب فريد په روان ناورين سخت افسوس ښکاره کاوه خو داميدونواو روښاني سبا لپاره يې دپياوړي او منلي شاعر محترم عبدالباري جهاني دنوي نظم يوه په زړه پورې برخه داسې راواخيسته :

موري! مه ژاړه دا شپې به دي سبا سي
چي تير سوي زر اختره زر به راسي
نن که ز موږ له ښاره تللي جنازې دي
که له ساندو مو په ساندو فرشتي دي
سبا ګوره چي ظالم سپاره وي پلي
ګوندي نه وي هره ورځ په شان د بلي
وطن ډک دی له ميړونو له زلميو
ويني نه پريږدي د خپلو ميړنيو
که موږ نه يو ښار مو کور دی د ژونديو
دا ټاټوبی د افغان دی له پيړيو
تل به پايي تل به دا افغانستان وي
چي لا پاته پر دې خاوره يو افغان وي

دپورتني اميد ببنوونکي نظم دلوستلوپه حال کي مي دګڼ شمېر افغانانو پردېسي اوخوږې سترګي په داسي حال کي له اوښکو ډکي وليدې، چي په رنګونو او څېرو کي د اميدونو او بريااليتوب نښي ښکارېدې .

دمحترم امام له خبروڅخه وروسته دکوچني اختر دوهم لمونځ اداأوګډونوال داخترمباره کي لپاره غاړه غړې شول دغه حالت ماته زموږ دناقرارزرمت اخترونه رايادکړل هغه اخترونه، چي اوس يي هلته څوک دپردی او تپل شوې جګړې له کبله نشي لمانځلی هو! دپردی اوتپل شوې جګړې له کبله .

ديادولو ده، چي داختر لمانځلو لپاره ميرويس نيکه جومات ته زموږ ګڼ شمېر درنو خويندوهم تشريف راوړی و دهغوی په اختيار کي ځانګړی سالون ورکړ شوی او مسؤلو کسانو يې پالنه کوله .

څه چي زما ډېر خوښ اوزيات پرې ډاډمن شوم هغه دګڼ شمېر څه چي دمطلق اکثريت زلمو ګډون و.



دوی نه یوازې دمیرویس نیکه جومات ته په خپل راتګ یونوی رنګ وربخښلی و، بلکې زموږ په زړونو کې یې داهیلې نورې هم غښتلې کړې ، چې دوی مانا زموږ ځای ناستي به هیڅکله هم خپل دین او فرهنګ پرې نه ږدي دوی به دخپلو هېوادوالو په غم او ښادي کې تل په صداقت سره ګډون کوي .

زموږ په دین اووطن میینوزلمودروژې مباره کې په تراویحواودقران عظیم الشأن په ختم کې هره شپه په داسې حال کې ګډون کاوه چې سبابه یې خپلودندواودرسونوته هم ځانونه رسول دوی دې الله پاک کامیاب او صالح لري .

دروژې مباره کې په اوه ویشتمه نېټه چې کله موږ دقران عظیم الشأن ختم درلود دومره زلمیان راغلي وو، چې یو شمیر کسانود ترایح لمونځ اداًکولولپاره دجومات په دهلیز کې صفونه برابرکړل دمیرویس نیکه جومات د مشرتابه هیئت مسؤل ښاغلي حاجي صاحب احمد احمد زي هم په دهلیز کې ورسره د تراویح لمونځ اداً کړ.

پورتنی جملې مې ځکه ذکر کړې ، چې په یاده شپه په ټوله مسلمانه نړۍ کې دقران عظیم الشأن ختمونه وشول د کابل په جوماتونوکې هم ختمونه وشول .

دوزیرمحمداکبرخان په جومات کې په داسې حال کې دپاک قران ختم ترسره شو، چې ورته په څېرمه کوڅه کې داطلاعات اوکولتور وزارت مسؤلینودسلماکنسرت نیولی او د افغانستان د اسلامي ؟؟ جمهوریت داطلاعات اوکولتور وزیر ښاغلی مخدوم رهین پکې ناست اومزې کولې .

دروژې پنځه ویشتمه، اوه ویشتمه اونهه ویشتمې هغه مهمې شپې دي ، چې دقدردشپې پکې زیات امکانات وي خوکله چې دخدای بنده ګان دداسې مهمو شپو په وړاندې دومره بې پروا وي لکه زموږپه مظلوم ولس دکابل تپل شوې اداره نو الله پاک به ځنګه په موږ داشپه ولوروي؟

ګرانو خویندو او وروڼو!

تاسوباوروکړئ  هغه  د چا خبره، چي دکمونستانوپه  وخت کي هم لاچا دروژې مباره کي دومره بي احترامي نه وه کړې  دا پورتنی تریخ  خبر چي  تاسو یي  په لاندې لینک کي لوستلای شئ ،

http://nakhtar.bloguna.tolafghan.com/posts/18805

دومره  په غوسه کړم، چي  زړه مي  وه یو ځل بیا د خپل قلم  په  تېره  څوکه  د ډېرو سرتیټوپېزوانونه  ورقلم قلم کړم  خو د روژې مباره که میاشت وه هر څه مي وزغمل یوازې الله (ج) ته مي ددوی داصلاح یا تباهي سؤال وکړ .

یوځل بیا راګرځم خپل رپوټ ته او له زلمیانویي را پیلوم:

زموږ دغوتاندو اوښکلوزلمو په خورا درناوي سره داخترله لمانځه څخه وروسته مشرانوته اخترمباره کي وېیله دهغوی لاسونه یي ښکولول زه چي ددوی دمحبت اومشرانود شفقت شاهد  وم  پاک ذولجلال ته مي لاسونه لپه نیولي وو، چي ای خالقه افغانان تل همداسي صالح اونېک لرې، ای خالقه په موږ رحم وکړې، دافغان غمیزه نوره ختمه او ټولي نړی ته سوله او ورورولي راولي الله امین .

په ځای به وي، ولیکم، چي موږ او زموږ بهرمېشتو افغانانواولادونه مانا ځوان نسل په خپل هېواد، مذهب او دودونو مین نسل دی دوی په یوه پردی او خورا آزاده ټولنه کي خپل حدودمراعتوي، دیني او کولتوري احکامو ته ژمن اوله نېکه مرغه دمشرانو درناوی کوي.

ماته اوس داپوښتنه پیدا کیږي، که چېرې دالمان په شان  شرایط رهین ډولو خلګو ته برابر شي نور به لا څه ونه کړي؟

په هرصورت لکه مخکي مي، چي تاسوته عرض وکړ نورزه ورڅخه راغلم له ځان سره مي  خپلي کورنی ته دبېلګي  په ډول یو څوکلچي او جیلبی راواخیستي .



دا هم باید زیاته کړم، چي دمیرویس نیکه جومات مسؤلینو دروژې په مباره که میاشت کي  دهر روژه ماتي لپاره ترتبات نیولي وو.

په  دسترخوان یي برکت  د اختر کلچي او جیلبی یي  هم  فرېمانه وې زه  یي څو نمونوي  انځورونه لرم کوشش به وکړم، چي له دې رپوټ سره یي درنوافغان ویبپاڼو ته هم ورولېږم .



**ځانګړې او ارزینه یادونــــــــــــــــــــــه :**

داختر له لمړي لمانځه څخه وروسته کله چې زه دميرويس نيکه جومات په دفتر کې له مشرتابه هيئت سره ناست وم هغوی په تاکيدسره ماته وويل، پخپل رپوټ کې له ټولوهغوافغان ويبپانوچلوونکوڅخه مننه وکړم، کوموچې بې له ځنډه دميرويس نيکه جومات خبرتياوې او رپوټونه خپاره کړي دي .

نو دادی زه هم پخپل وار ټولوقدرمنو افغان ويبپانو چلوونکواودرنو کورنيو ته يې له هرڅه لمړی دکوچني اخترمباره کې وايم اوبيا دميرويس نيکه جومات دمشرتابه هيئت په استازيتوب ټولوته خپلې نېکې پيرزويني او درناوی وړاندې کوم او مننه ورڅخه کوم ، چې تل يې له موږ سره خپل اخلاص ښودلی کور يې ودان .

که زه د دوی نومونه وليکم خامخا به يې نومونه وروسته وړاندې شي داسې نه چې بيا کوم يو ته ګيله ودرېږې نو دوی هر يو دې زموږ مينه او درناوی ومني تل دې ښاد اوآباد اوسي .



نام خدای دومره زيات افغانان راغلی وو، چې دا جرمني مېرمن هم ورته هک پکه پاتې وه.

دګران افغانستان دخپلواکي، سوکالي او هلته په ګډه داخترونو دلمانځلو په هيـــــــله

ستاسو ورور

پردېس بسمل